**د لوی احمدشاه دراني د زيږدنې ۲۴۹ کالیزې ته په ارادت!**

# د راجپوتانې راجا، مادوسینګ کهچوا (۱۷۲۸-۱۷۶۸)

## د لوی احمدشاه بابا یو بل نامتو هندي متحد



راجا مادوسینګ کهچوا (۱۷۲۸-۱۷۶۸)

لیکوال: پروفیسورعبدالخالق رشید د نهروپوهنتون استاد

---

موږ په دې اړه ډیر لوستي چې احمدشاه بابا په آسیا کې د دراني امپراتورۍ بنسټوال او لاربنود و، د ده د واکمنۍ او نفوذ جغرافیا لویدیز ته پرعرب سمندرګۍ، ختیراو جنوب ته پرهندوستان او کشمیراو همدسې شمال ته ترمرکزي آسیا پورې رسیده چې دا هره خوا او هر لورى کیدای شي د یوه ځانګړي تیزس په توګه د تاریخ زده کونکي او پوهان وڅیړي او ځانګړي آثار ورباندې ولیکي، ځکه دراني امپراتوري د آسیا په زړه کې د یوه مقتدر حاکمیت، نظام او نظام سالارۍ نوم اوپرتم دی چې ویاړیي یې د آسیا له تاریخي اوهنګامه جوړونکي مرکز **کندهار** څخه پیل کیږي او د پرتم لویه هنګامه یې په ټوله آسیا کې په ویاړ او پرتم سره د آسیا یا شرق د تاریخ یومهم، حساس او حماسي څپرکي جوړوي.

د احمدشاهي سوبو یوه لړۍ د ده د لویې امپراتورۍ جنوب اوشرقي برخې یا هندوستان وچې یوازې او یوازې یې پرهغه لوري دخپلې واکمنۍ اوافغانستان د پولو د ساتنې په موخه پوځونه استولی اوهغه هیواد یې د یوه مرکزي نظم او نظام پرپوله درولی دی. **لوی هندوستان ته په احمدشاهي دوره کې دوه لوی خطرونه چې یویې کورني اودویم یې باندنی ومتوجه ول.دغه دوه خطرونه یومرهټه اوبل انګریزان ول،** مرهټه د جنوبی هند له مرهټ څخه (دا سیمه د اوسني پونې اړوند کلی اوسیمه وه چې بیا وروسته د

جنوبی هند دغه حرکت هم دهمدغې سیمې په نامه **مرهټه، یامرهټان** باندې یادشو) راپورته شول، جنوب هندیی مسخر کړله هغه وروسته یې دمرکزي اوشمالي هندوستان پرلورپه خورا وحشت سره رامخه کړه، پر راجستان را پریوتل د راجستان زیاتره ښارونه د جیپور په ګډون یې تاراج، ولسونه یې تباه اوله هغه وروسته یی ځانونه د مغلي کمزورې واکمنۍ مرکز ډیلی او اګرې ته ورنږدې کړل، دلته یې د هندوستان مرکزیت له مستقیم خطرسره مخامخ کړ چې خبره یې ترپنجاب او لاهوره پرې هم ورسیده، دوی دهغو تاریخي سیمو اوخلکو د ځورونې او بشپړتالان پلان هم درلودل.

موږ نه وایو چې مرهټه ځواک نه، مرهټه د هندوستان خلک نه ول، یوازې دومره ویلای شو چې دوی د هندوستان له پاره ان چې د کمزورې مغلي واکمنۍ په کچه هم د آزادۍ اونیکمرغۍ سیاسي اواداري پلان نه درلود، نامتو تاریخ لیکونکي (جی آن سرکار) د مرهټه په اړه دا خبره په بشپړ ډاډ سره کوي چې: « هیڅ داسې منظمه هڅه چې هغه دې د خلکو د پوهې او یووالي داسې نښه، هم د شیواجي اوهم د پیشوایانو ترواک لاندې وخت چې د یوه منظم سازمان څرګندونه وکړي په مرهټه ووکې نه وه، د مرهټه وو چې کوم یووالی اوسازمان رامنځ ته شوی و، هغه په خپل وار یو مصنوعي، تصادفي او ان چې خطرناک یووالی اوسازمان و»

ځکه خو ویلای شو چې مرهټه په خپل وخت کې نه د هندوستان په خیرووااونه د سیمې، همدا وجه وه چې ویې نه شوای کولای پریوه ملي اوهندي روحیه دهندوستان دخلکوملاترډځان کړي، دوی چې پرهره سیمه ورغلل، پرخلکویی درنې مالیې اوجزیې حواله کړې، قومي، مذهبي او سیمه ییزتوپیرونه اوتعصبونه دا هرڅه یې له ځان سره درلودل، چې نښې یې اوس هم دهندوستان په لویدیزاو جنوب لویدیزکې لیدل کیدای شی. دوی له دکنه ترډیلي پورې دتالان اوجګړو په زور ځان په خلکو او ولسونوکې نامتو کړ، کله چې دراجستان مرکز جیپورته راورسیدل دلته یی دغه ښاراو خلکو ته زیات مالي او ځاني تاوانونه ورسول او له هغه وروسته یې خپلې دغې بدمرغې لړۍ ته ترډیلي اوترهغه هغې خواته دوام ورکړ، ترڅوچې د هندوستان خلک ناچار شول او د دوی په وړاندې یې د یوه پراخ ائتلاف بندوبست پایله دلوی احمدشاه بابا پربلنه باندې پای ته ورسیده اوهغه یی د دغې لویې ستونزې درفع او دفع په موخه هندوستان ته وروباله.

**دویم خطري** ځواک چې لوی احمدشاه ابدالي له مرهټه وووروسته له هغه څخه د بشپړې ناامنۍ احساس کاوه هغه انګریزان ول، انګریزانوپه هندوستان کې دخپل مادي اومعنوي ځواک دپیاوړتیا په خاطراوږد مدتي پلانونه درلودل، ځکه یی ځان د درنې امپراتورې په ځوښ اولوړتیا کې آرام نیولی و اونه غوښتل ددرانیانو دځواک په مقابل کې چې د دوی له مقابلې اوتوانه لرې خبره وه په مستقیمه توګه هلې ځلې وکړي، دوی تردغه مهاله ځانونه بنګال ته رارسولي ول اوله هغه ځایه یې هندوستان اونوروآسیایی هیوادو ته ځان یوازې په تجارتي څیره کې ورښود اوبس، پرهمدغه لامل دوی ان داحمدشاه ابدالي په زمانه اوترهغه وروسته د تیمورشاه په زمانه کې دتجارتي اوغیرمستقیموسیاسي اړیکو پرلامل یو لړغیرمستقیم تماسونه ټینګ کړي وو،چې دغه تماسونه یی هم هغه شیطاني هڅې وې چې د هغو ترشاه یی خپلې نقشې او خپلې طرحې په خپل ټول شیطاني طلسم سره ترلاس لاندې نیولې وې. دانګریزانواو دراني امپراتورۍ دواکمن تیمورشاه له خوا لومړی لیک انګریزچارواکي (وارن هېسټنګز) ته د ۱۷۸۵ کال د اکتوبرپه ۲۶ نیټه دده د یوه لیک په ځواک په لاندې متن سره ورغلی دی:

**« ستا هغه لیک چې اوسنیو پېښو ته یې څرګنده اشاره کړې وه را ورسېدی. تاسي په هغه لیک کي دې خبري ته اشاره کړې وه چې زموږ د دوستانه اړیکوڅخه ډېروخت تېر سوی دی او ته به هروخت**

**کوښښ وکړي چي دغه اړیکي لکه څرنګه چي دي هغسي وساتي؛ او دا دوستي اوښې اړيکي به تر قیامته همداسي پاته وي.ستا استازی شاه عبدالله پیرزاده نقشبند هلته د ررسېدلی دی اوتاته یې زموږله شاهانه نیتونوڅخه اطلاع درکړې ده.تا عبدالله د دې لپاره زموږ حضور ته رالیږلی وو چي ستاد نیتونو په باره کي ماته اطلاع راکړي.اوس هم زه درته وایم چي تایو اعتباري سړی زموږ حضورته را ولیږه چي ستا د ټولو نقشواونیتونو په باره کي زموږ سره خبري وکړي.هغه را ورسېدی او موږ له هغه سره پر ټولو هغوشیانو باندي چي دواړوخواوو ته داهمیت وړدي خبري وکړې. تا ته معلومه ده چي دشریفو پاچاهانو هدف دبې وزلوخلکو په دادرسېدل اود ټولوانسانانو خدمت دی اوما خپل ټول ژوند ددغه خدمت په لاره کي تېر کړی دی. دا ځل چي ستاسی استازی عبدالله زموږ حضور ته راغی نودا یې راته وویل چي ته په څومره صداقت دخپلوخلکوخدمت کوې اوستاریښتینتوب مي پرتا باندي باورزیات کړی دی. هرکله چي ستا باوري استازی له ده سره زموږ حضورته رسیږي اوستا دهیلو او آرزو ګانو په باب ماته اطلاع راکړي نوهغه به منظوري سي. ته په هرفرصت کي د شاهي مهربانیود زیاتېدلو په انتظار اوسه.»**( د بی. ورما له اثر- انګریزي ختیزه کمپنۍ اوافغانان ۱۷۵۷-۱۸۰۰ څخه)

یا دا چي تیمورشاه بل انګریزچاړواکي ته دشاه عالم د بیا واکمن کیدواوله هغه سره د نجیب الدوله دزوی غلام قادرخان د ناوړه چلند په اړه په آمرانه توګه لیکي :

**« د دې تلپاتي کورنی د قدرت د پیل په سر کي،چي د فقید اعلیحضرت بریالي بیرغونه د هندوستان پر پراخو دښتونو باندي ورپېدل اود ډهلي ښارد هغه په لاس کښېووت نوعالمګیر پاچا وو. د عالمګیر له وفات څخه وروسته،شاه عالم پاچا سواو فقید اعلیحضرت پر هندوستان باندي سلطې ته دوام ورکړ.موږ هم له شاه عالم سره هغه پخواني سلوک ته دوام ورکړی دی. اوس موږ واورېدله چي غلام قادرخان یوسفزي،چي په روهیله مشهور دی، له بې ارزښتو اوبې فکروخلکو سره لاس یو کړی دی،یو بل څوک یې پر تخت کښېنولی اود سلطنت چارې یې ګډي وډي کړي دي. لکه څرنګه چي د شاه عالم ساتنه پر تاسي واجب ده او داساتنه د هغه له تلپاتي خاندان سره ښایي اوتاسي جناب له دغې کورنۍ سره اړیکي لری اود هغوی دوستان یاست؛ نو موږ ځکه تاسي ته اوامر صادروو چي تاسي له نورو اروپایی قدرتونو سره لاس ورکړئ اود خپل اعتبار او شهرت د زیاتولو په خاطر نمک حرامه غلام قادراود هغه بدبخته اندیوالان له منځه یوسی او شاه عالم ته بیرته خپل پلرنی تخت وسپارئ. ځنې مه کوی؛ زموږ پر دغې موضوع ډېرفکرخراب دی. دا زموږ امر دی.د غلام قادرله منځه وړل عملي کړی او په دې توګه زموږله خاندان سره دوستي اوشاه عالم ته وفاداری وښیاست اوموږ ته، د خپلو عملیاتو په باره کي، اطلاع راکړی.»** ( د بی. ورما له اثر- انګریزي ختیزه کمپنۍ اوافغانان ۱۷۵۷-۱۸۰۰ څخه)

په هرډول انګریزانودتیمورشاه پرمهال خپلي توطیي په خورا نیرنګ سره پیل کړې،دشاه عالم، انګریزانو، شجاع الدوله توطیه هغه سازش وچي د هندمسلمانانواوپه ځانګړې توګه دروهیلکنډ پښتنو ته په کې زیات تاوانونه اوبدمرغۍ ورپه برخه شوې،، د نواب محبت خان اوپه زرګونو پښتنو وژنې دهمدغې توطي یوه برخه وه چي انګریزانو د **تیمورشاه د همداسي بی تفاوتیوپه پام کي نیولوسره عملي کړې دي**. همدغه لویه توطیه وه چي له بنګال اوټول هندوستان څخه دلوی احمدشاه بابا دانګریزانودایستلونقشه اوپلان عملي نه شو، احمدشاه ابدالي دمرهټه وو دخطرله منځه وړلو وروسته له هندوستان څخه د انګریزانودایستلوجدي پلان چي موږ هغه ته دهند له پاره د دویم خطرپه توګه اشاره وکړه دجنګبازخان اواحمدخان بنګش په ملتیا اواستولوسره ترلاس لاندې درلود. ( دزیاتومعلوماتو له پاره د علامه رشاد د احمدشاهی عصر نومیالی ، ګلستان رحمت اوافغانستان اوبریتانوي هند آثارلوستلای شئ)

## د دراني امپراتورۍ يو شمير متحدين

د لوی احمدشاه بابا په وړاندې پردووخطرونو برسيره چې دواړه د دراني امپراتورۍ دښمنان ول، بايد په لنډه توګه دهغومتحدينويادونه هم راته اړه ښکاره شوه، هغوی چې هندوستان ته په راتګ ، بلنه اوجګړو کې يې له احمدشاه ابدالي سره مرسته وکړه،دغه ځواکونه د هندوستان سيکان،د هندوستان مسلمانان، راجپوت اوتريوه حده جټان ول. په دغه اړه خبره له سيکانوپه لنډه توګه را پيل کوو:

**سيکان د هندوستان په شمال** په تيره بيا پنجاب کې له ډيرپخوا يومنل شوی ځواک و، دی اووي به. له دراني امپراتورۍ سره د دوی اتحادهم څه آسانه خبره نه وه، دوی ترڅوچې وس يی کيده خپلې سرکښئ او خپل مقاومتونه وکړل، خوپه پای کې پردې باوري شول چې د دوی ګټه ترجنګ په سوله کې زياته ده، ځکه يی له يوشميرمالي اوځاني زيانووروسته د دراني امپراتورۍ ملاتړوکړاواحمدشاه ابدالي هم د دوی په منځ کې ديوه پياوړي ډاډ په پايله کې پرهندوستان ورکښته شو،ترټولوجالبه خبره داده چې سيکانوله ابدالي ځواک سره دجګړې ترخه مزه وڅکله، اوپه پای کې دوی (سيکان) پردغه ټکي باوري شول چې له دوی سره هيڅوک اوهيڅ ځواک په دغه حساس وخت اوحساس موقعيت کې هيڅ ډول مرسته نه شي کولای.ځکه خويې له غره ترسروهلودسازش اوتسليمۍ تګلاره غوره وبلله اوځانونه يې آرام ونيول، دوی په خپل دغه دريځ سره نه يوازې زيان ونه کړ، بلکي راتلونکي ژوند اويواوچت برخليک يې دهند په نيمه وچه تضمين شو اوديوه لوی اواوچت ځواک په توګه ترننه پورې دهند دنيمې وچې په جغرافيا، تاريخ اوسياست کې فعال پاتې شول. دسيکانودنامتوليکوال اومورخ د آثارو په ريکارد کې مې چې يو زيات شميريې د پټيالې اودهند په ملي آرشيفونو کې خوندي دي د دراني امپراتورۍ اوسيکانوداړيکو په باب دغه جالب ټکي لوستی: **« سيک، سيکي هويت اوپرتم چې نن سبادغوخلکوته د هند په نيمه وچه کې ورپه برخه شوی، ددې ټولولامل د دراني امپراتوري اوپه سرکې داحمدشاه ابدالي برکت اوپاملرنه وه، چې دوی يې په سيمه کې په يوه ځواک باندې واړول، سيکان تل بايد له همدې امله د دراني امپراتورۍ مرهون اوپوروړي وي.»** په هرډول ، سيکان داحمدشاهي واکمنۍ له پلويانواومتحدينوڅخه په يوه ځانګړي حساس موقعيت اوحساس وخت کې وو.

**دويم ځواک په دغه ائتلاف** کې دهندوستان مسلمانان په تيره بيا پښتانه وو،دايوازنې قاطع ځواک وچې لوی احمدشاه يی هندوستان ته ورروباله څوله دوی سره دهندوستان دستونزودحل په کارکې مرسته وکړي اوهندوستان دمرهټه ووله شره وژغوري، په دغه يوالی کې د لوی سپه سالار نجيب الدوله يوسفزي ، شجاع الدوله، احمدخان بنګش اونورونامتومشرانواوسالارانونومونه په سرکې راځي، ددوی په ملګرتيا اوملتيا احمدشاه ابدالی په هندکې ديوه بريمن ځواک په توګه را وپړکيده اوله مرهټه ووسره ديوې پريکړنې جګړې (۱۷۶۱م )په ترڅ چې دپاني پت په لويه جګړه باندې نامتوده بريمن را ووت اودمرهټه ووهغه ځواک چې ټول هندوستان ته يې دسرپه کاسه کې اوبه ورکړې وې دتل پاره ختم کړ. په دغه برخه کې د لوی اسلامی روحاني اونامتومحدث شاه ولی الله دهلوي ونډه بله هڅه وه چې دخپلو ليکونوپه ترڅ کې يې داسلام يوازني فاتح پاچا اعلحضرت احمدشاه ابدالي ته بلنه ورکړه چې دهغه له بلنې سره سم يی هندوستان ته يوځل بيا يوه نوې روح ورکړه،دده ټول بلن ليکونه دهندوستان په تاريخ کې دهغوزرينواسنادو ځای لري چې دهغوله مخې کله هم پردرانی اميراتورۍ اوپه تيره بيا احمدشاه ابدالي

باندې دیرغلګر،غاصب او تالانګرواکمن نوم اوتورنه شي لګیدای، دشاه ولی الله له مکتوباتوڅخه: " الحمدالله رب العلمین ولصلوة والسلام الاتمان الاکملان علی رسولہ شفع المذبنین یوم الدین والہ اصحابہ اجمعین امابعد . این کلمہ چند است حمیت اسلام حامل برعرض آنها شده ، حق عزوعلاآن را برمسامع علیہ برساند ، وجود پادشاهان اسلام نعمتی است بغایت عظیم... باید دانست کہ ولایت هندوستان ملکی ست وسیع ، اوایل ملوک اسلام درمدت بسیار بہ مجاهده بی شمار بہ دفعات این ولایت را مسخر ساخته اند سوای دهلی کہ جای نشت پادشاهان صاحب اقتدار بوده است درهرناحیہ فرمانروای علاحده بود، مثل گجرات ، احمدآباد ، کہ والی جدایی داشت، وتهتہ راپادشاهی دیگری وبنگالہ درتحت وتصرف حاکم دیگر واودهہ محل سلطنت شخصی دیگر کہ اورا سلطان الشرق می گفتہ اند وملک دکهن عبارت ازپنج سلطنت است ،برهانپور، وبراراواورنگ آباد وبیجاپور، که درهرولایت ازین ها پادشاهی مستقیل بوده است ودرمالوه حاکم جدا فرمانروا ، هریکی ازین مواضع کہ نام کرده شد ،پادشاهی علاحده صاحب فوج وصاحب خزانہ میداشت ... " (د شاه ولی الله سیاسی لیکونه ۴۶مخ )

**دریم څواک جټان وو** چې دوی ترډیره حده ځان ساتی دریخ درلود، په دې معناچې کله به یی له مغلي کمزوري حکومت، کله هم له مرهټه وواونوروځواکونه سره تړونواومعاملې کولې، جټان له دې امله مهم ول چې د ترډیرې کچې یې دهندوستان پلازمینه ډیلی په خپل واک کې درلود، برسیره پرډیلی د دوی دواک په ساحه کې بهرتپور، اګره ،متهورا، میوات، روهتک، میرت، علی ګړ، فرید آباد اودډیلی نورې شاوخوا سیمې راتلې. دوی ان اوس هم دډیلی په شاوخوا کې دلویو ځمکوخاوندان دي، دډیلی اوسنی ښارګرد سره د دوی پرمځکوباندې ودان شوی اوپراختیایی موندلې ده. په احمدشاهی دورکې ددوی مشرسورج مل جټ و، چې ده هم په خپل ټول ځواک سره د دبیلابیلوځواکونوسره دمعاملوښه تجربه



درلوده،جالبه خوداده چې دی په خپل وخت کې له لویواوځواکمنوراجاګانوڅخه و،ده له راجپوتوسره هم جنګونه وکړل اوسازشونه، ده له نجیب الدوله هم معامله درلوده، ده له مرکزي کمزوري حکومت،په تیره بیا وزیرصفدرجنګ سره لاس اوګیریوان شو، اودی یوازنی غیرمسلمان راجاوچې خاین صفدرجنګ یې دفریدآباد له جاګیرڅخه وشاړه اوخپل واک یی پرهغه سیمه باندې وساته، ده له مرهټه ووسره هم سخت جنګونه وکړل. همدعه جټ واکمن وچې له ابدالي ځواکونواوپه خپله احمدشاه ابدالي په وړاندې په ګونډوشواوله هغه سره یې هم نیم بند سازش ته غاړه کیښوده اوځان یی له افغاني ځواکه په امن کې وساته ، دهند دتاریخ لیکوال دده دحیرانونکي کرکترپه اړه حیرانونکي لیکنې لري، اودی دخپل وخت له نامتودیپلوماتانوڅخه ګڼې اووایی چې دی دومره ماهرسیاستوال وچې ځان یې د مرهټه وواوافغانانوترمنځ له ریزمریزکیدوڅخه په خورا مهارت سره وژغوره، وایی چې دی په عین حال کې چې لوی راجاو، د

لوی ځواک جېټ مشرو، خو بیایی هم دوخت اوزمان اوحالاتو ژورتحلیل له ځان سره درلود اودقیق وخت پیژندونکي واکمن و، له مرهټه ووسره یې دپاني پټ ترجګړې ځومیاشتې دمخه اړیکي وران شول، مرهټه وو تصمیم ونیو چې دی له منځه یوسي خو ځان یی تریوې خواته کړ،مقاومت یې وکړخو، خو احمدشاهي پوځونويی هرڅه ورخاورې کړل، ناچاریی په خپل ټول واک اوځواک سره یې ځان دلوی احمدشاه په مقابل کې یوناڅیزه اوبی اهمیته څوک وباله،چې یوه شودراني واک اوځواک ترډیلي پورې را ورسید، احمدشاه ابدالي ده ته هم بلنه ورکړه چې باید ده ته ورشي اودده داطاعت وکړي، د ددغې بلنې په ځواب کې احمدشاه ابدالي ته یې یولیک ولیکه دا لیک ډیرجالب لیک دئ چې دلته یې دیوه جالب تاریخي سند په توګه په ګډه سره لولو، دی لیکي چې :

احمدشاه ابدالي ته د سورج مل لیک ،

کله چې احمد شاه له ده غوښتنه وکړه چې دده په وړاندې دې حاضرشي

« ما دهندوستان په واکمنۍ کې د واک اوځواک کوم مهم ځای اومنصب نه درلود.زه یوله هغوځمکه والوڅخه یم چې په بیابان کې ژوندکوم .دخپل ارزښت اواهمیت په اړه هم زه داسي څوک نه یم لکه چې دوخت امپراتوران فکرکوي، زه ورته مهم ښکارم اوزما پرچاروکي مداخله راکوي. اوس داسي ځواک لکه اعلحضرت، چې هوډمن شوی یاست چې ما وګورئ اومخامخ مي ځان ته د جګړې په ډګرکې ودروئ، بیا ددغه کاراودغه بی اهمیته کس پرضد خپل پوځ ته قومانده ورکړئ،دا ډول چلن به یوازې د داسي لوی ټولواکمن د پرتم او لویی له پاره شرم اودا به زما غریب له پاره په خپل ذات کې یولوی ویاړ او فخر وي او کیدای شي نړۍ دا ووایی چې د ایران اوتوران امپراتورله ډاره پریوه داسي بی ارزښته اوخوارکي کوچي باندې وروبلوسید او یرغل یې پروکړ. دغه چارې کیدای ستاسي اعلحضرت په وړاندې له شرمه ډکه مساله وي، تاسود تاجونو اوویاړونوخاوند ته،برسیره پردې، به یوه بریالۍ اووروستۍ او هراړخیزه پایله هم یقیني نه کړئ.که چیرې تاسي په خپل ټول دغه سنبال شوي ځواک سره،ماغوندې یو څوک مات اوخوارکړئ په دغه کارسره به تاسې ته څه ګټه درپه برخه شي؟ زما په برخه کې به هر څوک دا وایي چې:« دغه خوارکی سړی څومره پیاوړی اوځواکمن و؟»خوکه چیرې دلوذات رضاوه، او حالات په مخالف لوري وروګرځي، هغه چې هیچاته هم نه ده څرګنده، نوبیابه خبره په څه پای ته رسیږي ؟

دا ټول واک اوځواک چې دهغه اعلیحضرت زرق برق لرونکو سرتیرو په تیرو یوولسوکالوکي دځان په برخه کړی دی، دا به ټول دسترګو په رپ کې له منځه لاړشي. دا دحیرانی وړخبره ده چې تاسود لوی زړه لرونکي اعلیحضرت داسي واړه شي ته پام نه کوئ، اوپه خپل ټول ځواک اوجنګیالیوسره د قهراو ګواښ قومانده ورکوئ، ددغه لوی اواوړده سفرستونزې موپرځان باندې ددغې بې اهمیته بریا اوفتحی په خاطراخیستي دي،چې دهغې په ترڅ کې زما اوزما دهیواد دعام وژنی قومانده په نظرکې ده.سرتیري او جنګیالي کله هم په دغه برخه کې ځان ته امتیازنه غواړي،زه دځان په اړه دا وایم چې زه اوس ترپنځوس اوښتي یم، یوه اوهوښیارسړي هم پردغه فانی ژوند باندې ایمان اوباورنه لري.ما دژوند دغه پراوتیرکړی دی،پرپاتې یې نه پوهیږم.خو تردې به لویه لورینې اوډالی نه وي چې دشهادت جام مي په برخه شي.دا به زراویا وروسته له جنګیالیو سره دسرکښوپوځیانو په وړاندې په ډګررا په برخه کړي اوزما نوم په پاتې شي اوزما دپلرو پرځمکه به دخپل عصرد کتاب په پاڼوکې دا وریادوي چې یوه بیوا که اوکمزوری بزګرڅنګه له یوه پیاوړي ټولواکمن سره په یوه لیکه کې یوشان سا اخیسته، اوورسره جنګیده،له هغه

پیاوړي واکمن سره چې لوی لوی پاچهان تر پښو لاندې کړي وواوداهدف او هیله به دهروفادارسړي په زړه کې پرته اوپاته وي. ان که زه وغواړم چې ستا فرشته ډوله دربارته درشم او هلته برخه واخلم ، زما دوستان ماته ددغه کارسلا اومشوره نه راکوي، په داسې یوه حال کې به هغه اعلیحضرت،دعدالت سرچینه ما وبښي، داکاربه دکومې کمزورۍ لامل نه شي،بلکه دابه ستاسې دلامهمو سفرونواوبریولامل شي اوستاسي عزت اوپرتم ته به داکارد هیڅ ډول خطرلامل نه شي. زما ددریو کلاوو په اړه چې ستاسې قهریې را پارولی ربښتیا داده چې ستا چاړواکو هغوته دغښې دکمزورۍ ځالې په سترګه کتلي وو،هغوی ته دیوازې دیوې سیالۍ اومقابلې په ترخ کې، دلوی خدای په مرسته،لکه د سکندرد دیوال په شان په یوه نه ماتیدونکي سنګرباندې اوښتې و. »

(cbkwgl.wordpress.com/2014/06/20/suraj-mals-letter-to-ahmed-shah-abdali)

## د دراني امپراتورۍ یوبل له پامه لویدلی خومهم متحد

دلوی احمدشاه ابدالي له پاره له شکه پرته په هند کې دهغه وخت راجپوتانه یا اوسني راجستان یوه له هغومهمو اوستراتیژیکو سیموڅخه وه چې له لرغوني زماني بیا ترننه د هندوستان په تاریخ کې له خپل اهمیت څخه لرې نه ده پاتې شوې،له غزنوي یرغلونو بیا ترانګریزي ښکیلاکي دورپورې دغې سیمې ددغوبرلاسو ځواکونو لپاره ځانګړي اهمیت درلود اودخپل نفوس اونفوذ په دوران کې یې له دغې سیمې څخه دشمال او جنوب دواړوخوا وو پرلورد پرمختیا اوپراختیا پرلورد پاملرنې وړګټه اخیستې ده او دغه سیمه یې دیوې ستراتیژیکې سیمې په توګه دخپلو پوځي تیریوپه موخه کارولې هم ده.

موږ تراوسه په هند کې د لوی احمدشاه بابا دلښکرکشي په اړه پورتني متحدین سره یادول،چې هغوی لوی احمدشاه ته بلنه ورکړه اویوشمیربیا کله چې احمدشاه هندوستان ته راغی له هغه سره مرسته وکړه اوخپله بلنه یې  ده ته یې د هندوستان دوخت د نومیالي روحاني لارښود شاه ولي الله  له لارې استولې وه، په دغه اړه زیات شمیرهندي اوغیرهندي مورخین هم  په دې اندې چې احمدشاه کله هم په خپله رضا دهندوستان د نیولو هوډ نه درلود اونه په دی فکرکې وچې باید پرهند (د ځان اوهیواد له دفاع پرته) یرغل وکړي او یا هم په هندوستان کې پاتې شي، چې یوشمیرمسلمانان په هندوستان کې دده له خواد یوه پیاوړي حکومت نه جوړول هم دده له تیروتنو څخه بولي. په داسې حال کې چې خبره دومره هم ساده نه ده لکه چې په دومره آسانۍ اودومره لنډوکرښوکې ویله اولیکل کیږي، احمدشاه د یوه ائتلاف په نتیجه کې هندوستان ته ولاړ، لکه چې دمخه مویادکړ،څه چې دلته لږ نورهم په تفصیل سره د ویلو وړ دي اوموږهم هغه ته لږه پاملرنه کړې او یا دا چې په دغه باره کې مو ډیرڅه نه دي لیکلي هغه له دراني امپراتورۍ سره د راجپوتانو او راجپوتانې پیاوړی یووالی و، چې زه دلته د دغه لوی بحث په ترخ کې د یوې ناویلي موضوع په توګه اشاره ورته وکوم :

راجپوتانه یا اوسني راجستان جالب او د پاملرنې وړجغرافیایی موقعیت لري، دا سیمه چې هندوستان په شمال او شمال لویدیز کې له، سند او لږ ورهغه خوا له افغانستان اوپخواني خراسان سره تړي موسم یې تود او زیاتره د زړه خوړینودښتواوشګولرونکي سیمه ده دتاریخ په اوږدوکي دلویو امپراتوریود لښکرو ګذرهم په همدغه له سترو ډکو شګو او تودوخو باندې شوې چې ځانونه یې ترهندوستان پورې  په خورا سختیو سره راسولي دي. دغزني محمودهم دراجپوتاني پرلاروسخت ځاني تاوانونه لیدلي دي،غوري واکمنان هم ترهرڅه د مخه دلته راغلل اوان چې په لومړي راتګ سره یې ماته هم په همدغه سیمه( راجپوتانه) کې وه. دغه سیمه د هندوستان زړه هم بلل کیږی، یوه برخه یې په پخوانی مالوه کې راتله،له

ګجرات او لړ ورهغه خوايی لمنه ترعربی سمندرګی پورې هم غزيږي، همداده چی د تاريخ په هرپړاو کې يی ځانګړي جغرافيايی، سياسی او پوځي اهميت درلود. دډيلی سلطنت، لوديانواو سوريانو له هغه راورسته دمغلواود انګريزانو پرمهال هم دغې سيمې خپل پرتم او شته والي له لاسه ورنه کړ، دلودي سکندرمورهم د راجپوتانې ديوه راجپوت زرګرلوروه،د سوري شيرشاه په دوره کې هم راجپوتانې ته دهغې د موقعيت له امله ځانګړی اهميت ورکړی شوي و،همداوه چې بيا هندي مغلي واکمنانو دغې پاليسي ته په هند کې پراختيا ورکړه او له دغې سيمې سره يې اړيکي نورهم پياوړي شول .همداوجه وه چې دغه سيمه د نورهندوستان په انډول د تاريخ په ډيرووختوکي دسختو اودرنويرغلونوڅخه خوندي پاتي شوې ده.

د هندوستان په جنوب کې د مرهټه شيواجی غورځنګ چې نن سبا دهندوستان دملي تاريخ يومهم څپرکې جوړوي اودمغلي واکمنۍ په وړاندې يې سرکښي وکړه، ډيرزيات هندوان له دغه حرکت سره مل شول خويوازني څوک چې له مغلي واکمنانانو سره يې دهند په جنوب کې ددغه غورځنګ په ټکولو کې مرسته وکړه هغه هم دغه نوميالي راجپوتان ووچی ان د اورنګ زيب ترعصره هم په خپله ژمنه باندې ژمن پاتې شول او ځانونه يې له مرهټه وو سره مل نه کړل.په شمالی هندوستان کې هم کټ مټ خبره روانه وه، د افغانانو دمغلي ضد غورځنګونو( روښانيانو )او( درياخان اوايمل خان) په مقابل کې هم راجپوت مشران لکه جسونت سينګ اونورجنګيدل چی له سختو ستونزو اوماتو سره هم مخامخ شول .

په انګريزې دوره کې هم راجپوتانې اوراجپوتانو خپل هراړخيزاهميت له لاسه ورنه کړ،انګريزان هم ترهرڅه دمخه له دوی سره په هراړخيزه توګه غاړه غړی شول،ځکه دوی هم د هندوستان په وړاندې بيلابيل غرضي پلانونه درلودل، چی دهغو دتطبيق په خاطر دوی داسې يوې ډاډمني پايګاه لکه راجستان ته دخپلو پوځي اوسياسي هدفو په خاطر اړتيا درلوده، دهندوستان زياترو تاريخ پوهانو دغه ټکی په دقيقه توګه ترڅيرنې لاندې نيولي اودانګريزانو له خوايي دغې سيمې ته دځانګړې پاملرنې په اړه يادونه کړې لکه چې يوه تاريخ ليکونکي ليکلي دي:

“ Rajput alliance had been a potential factor in the consolidation of Mughul rule in India ; the Marathas under the third Peshwa faild to utilize it for their Hindu-Pad-Padshahi ; and its value was realized by Lord Hastings even when the Rajputs had become “ a played – out rac”. The Governor- General was satisfied that an alliance with the Rajput State would give “ immense Strategic advantages for the Company’s military and political positions in Central india “ and would place at the disposal of the Company “ the resources of the Rajput country, for defensive and offensive purpose, against the internal as well as external enemies of The Company “ . ( AN ADANCED HISTORY OF INDIA p, 719 )

دهمدغه اصل په پام کې نيولوسره روښانه وه چې راجپوتانې ته لوی احمدشاه بابا هم په خپل وخت کې سخت متوجه واودغه سيمه يې په هند کې دخپلو بريو په خاطرد خپلو ټولو لښکرکشيو په ترڅ کې کله هم له پامه نه ده غورځولې. داحمدشاه ابدالي د لښکرکشی په اړه تاريخ خپل بی رحمه قضاوت کوي،چی دغه قضاوت زيات پرهغو ولسونو پورې اړه لري چی ددغو لښکرکشيو درب اوخرپ يې ليدلي وي،اوسني

تاریخونه ترډېره حده د روانولنډمدتو سیاستونو پربنسټ لیکل شوي او ویل شوي دي،خو زه فکرکوم چی که نړۍ او دنړۍ تاریخپوهان په دې وتوانیږي چی د نړۍ تاریخ پریوه علمي بنسټ باندې ولیکي، په دغه ترڅ کې به ډیرې خبرې اوحقایق داسې هم راووځي چی هغه به نوردغه اوهغه تحلیل ته اړتیا نه لري او نه به هرڅوک هغه له خپل فکراوتمایل سره سم تحلیلوي،ځینې خبرې دنړۍ په تاریخ کې هم شته او مستندې خبرې نه دي،اوسم علمي تحلیلونه نه دي پرې شوي لاهم خلک لاهم دغه ټکي ته نه حاضریږي چی هغو بدوته بداوهغو ښوته ښه ووایي چې دوی اویا د دوی تیرپه کې ښکیل او یا ورسره مخامخ دي، بله خبره داده چی باید دتاریخي پیښوپه برخه کې هم یوه علمي پرتله اودیوه علمي قضاوت پوښتنه هم په منځ کې وي، څویوڅوک، یونسل خولړترلړه دا ووایی پرون دنن اونن د سبا په پرتله ښه و اویا ښه نه واویا نه دی.ځکه چي ... ؟؟؟

**ولي راجپوتان له لوی احمدشاه ابدالي سره ملګري شول ؟**

د هندوستان په تاریخ اوفرهنګ کې داخبره تل یادیږي، هغه ولسونه چي دکندهاراوراجستان په سیموکې له پخوا ژوند کوي دغه خلک په تاریخي لحاظ که دمذهب پوښتنه ورسره مطرح نه شي یوقوم اوولس دي، په دغه اړه د هندوستان نامتولیکوال اوڅیړنکي ندوي دیوې ځانګړې نظریی خاوند دی اوخپل نظریی په ډیر وضاحت سره لیکلي دی چي :

« میرا ایک پرانا نظریه جواب تک مزید دلایل کا تشنه هی ، یه هی که هندستان کي راجپوت او افغانستان کي پټهان دونون ایک قوم هین ،ان مین سی جوهندوستان آکرهندوو مین شامل هوگیا، اس نې راجپوت نام پایا، اورجو ادهرره گیي اوربعد کو اسلام سي مشرف هویي،وه پټهان کهی گیي، یهان کی مختلف کوهستانی درون سې سلطان محمود اورسلطان شهاب الدین کې پرچموکي نیچی جوحمله آورهندوستان آیي وه هندوستان کي تاریخ کا نیا واقعه نه تها،بلکه انهین پرانی پټهانی مسلسل آمدون اور فوجی داخلون مین سي ایک داخله تها،جوهمیشه هندوستان مین هوتی رهتی تهي ، لیکن چونکه یه حمله آوراب بودهه دهرم کی نه تهي،بلکه مسلمان اور ایک قومی ومنظم حکومت کی ماتحت تهی،اس لیې قدیم سي آیي هویي راجپوتون نې ان کو قدم قدم پرروکا. مورخ مسعودی جس نې سنه ۳۰۴ هـ کی پس وپیش مین اطراف سندهـ کا سفرکیا تها، وه قندهارکی ذکرمین لکتاهی ( القندهاریعرف ببلاد الرهبوط (ص ۳۷۲ جلداول پیرس ) یعني قندهار رهبوط (؟) کی ملک کی نام سی معروف هی » مین رهبوط کورجپوت (راجپوت ) سمجتا هون،اس نی غالبآ سندهـ مین قندهارکي پټهانون کا نام « رجپوت » سنا هوگا،قندهار سند هـ کی خاتمه پرهی،دوسري طرف اگرپهاړ حائل نه هون،تو بنون(صوبه سرحد ) اور قندهار مین بهت کم مسافت ره جایی، اس کی بعد وادی سندهـ اوردریای سندهـ سامنې آجاتي هی ، غالبآ یهی وجه هی، که قندهار کي حکمرانون نی سندهـ پربارها قبضه کیا هی »( سفرنامه افغانستان ، مولانا سید سلیمان ندوی،اعظم ګړ ۱۹۹۱ ص ۱۰۹ )

له همدغه تاریخي تړاوسره په ځنګ اوس دغه ټکي ته راځوچي موږ ولې دراجپوتواولوی احمدشاه بابا اتحاد ته دیوه جدي تاریخي حقیقت په توګه نه دي کتلی اویا مونه دي لیکلی؟

زما په فکر دا چي په دغه اړه ترډیروپورې زموږ لیکوال چپه خوله دي کیدای شي یولامل یې داوي چي زموږ د دغو لیکوالولاس ته اسناد نه وي ورغلي، دا ستونزه په هندي سرچینوکي هم ترسترګوکیږي،هلته هم یوشمیر لیکوال چي دغه بحث ته راځي دچا خبره دوی هم ښوی وربانديې تیریږي اوپردغه ټکي باندې د یوه ژورتحقیق ترسره کیدوته ډیره زیاته پاملرنه نه کوي اونه یې کړې دی. هو، په دغه اړه داچلند

تراوسه کیده خو اوس یوشمیراسناد دا په ګوته کوي چې هندوستان ته دلوی احمدشاه ابدالي دبلنې خبره یوازې دهندوستان پرافغانانو – پښتنواومسلمانانوپورې تړلې خبره نه وه، لکه چې په تیروکرښوکې اشاره ورته وشوه، په هندوستان دمرهټه ودمظالموپه وړاندې یوپراخ ائتلاف چې په هغه کې دمذهب سوال هیڅ نه مطرح کیده رامنځ ته شوچې په پای کې دټولوچغې اوفریادونه دآسیاتریوازنۍ اولوېې امپراتورۍ او د هغه په سرکې دآسیا د سترفاتح احمدشاه ابدالي ترغوږ و ورسیدل او دی یی هندوستان وروباله، په دغه اړه به هغه لیکنې چې دغرض له مخې په لویدیزاوختیزکې ترسره شوې یوې خواته پریږدو، یوازې دلته د هندوستان پریادو شویو ځواکونو برسیره د هندوستان یوبل لوی خواک چې (را جپوتان ) او د دوی نامتوراجا ګان مادوسینګ او وجی سینګ چې پرهغه مهال داودیپوراوجیپورراجاګان وو له لوی احمدشاه ابدالي سره په خورا میړانې سره ودریدل، (*) د دوی په اړه ترټولو مهمه اودپاملرنې وړیادونه داده چې دوی له مرهټه ووسره مخکې تردې چې لوی احمدشاه هندوستان ته ولاړشي دښمن وو، دغه دښمني له هغه مهاله راپیل شوې وه کله چې مرهټه وو پرراجستان باندې وحشیانه یرغل وکړ، هغه یرغل لکه چې پرته له هرډول لامله را جپوتانې ته وردغاړې شو:

“ Madho Singh I was at Udaipur when his stepbrother Ishwari Singh committed suicide. In January 1751, when about 4000 Marathas marched into Jaipur and started plundering the city causing a riot to break up, it was Madho Singh who patched the things up. He freed the Kachhawaha Kingdom from the Marathas, won several important battles and defeated the menacing Jat king Jawahir Singh, rewarding Holkar for his help in gaining the Jaipur throne by giving him the parganas of Rampura and Bhanpura in 1753. He also avenged his father by poisoning Raja Bakht Singh of Marwar who was considered invincible after the Battle of Gangwana.” (https://en.wikipedia.org/wiki/Madho_Singh_I)

د راجپوتانو له پاره دا لوی ګواښ وچې باید د هغوغچ یې له مرهټه ووڅخه اخیستی وای،کله چې درانې پوځونه هندوستان ته ورسیدل پرهمدغه مهال مرهټه چاروکې پردې ښه پوهیدل چې نه راجا وجی سینګ او نه هم راجا مادوسنګ له دوی سره ملتیا ته تیاردي، سره له دې چې مرهټه ووهڅه وکړه چې له دوی سره د تیرپه هیرمعامله وکړي، خو راجپوتانو بیا هم پرجیپوراو راجستان باندې د پورتنیو تیریو او مظالمو خبره له یاده ونه ایستله، وجی سینګ او مادو سینګ دواړوداسې یوه شیبه چې مرهټه په کې تباه او برباد شي له خدایه غوښته: « ان تردې چې وجی سینګ خوخپل وکیل (برهت کرنې دان) دخبروله پاره احمدشاه ابدالي ته ورواستاوه اوهغه ته یی ډاډ ورکړچې دی دا ژمنه کوي چې دده په څنګ کې به له ده سره دریږي»

https://shodhganga.inflibnet.ac.in/bitstream/10603/17666/8/08_chapter%202.pdf

له دغه ژمنې وروسته پروجی سینګ باندې دمرهټه اونورو ځواکونو فشارونه نورهم زیات شول ، خوسره له دې یې هم په ظاهري توګه له ابدالیانوسره پرخپله ژمنه پاتې شواودپانې پټ په جګړه کې یې ځان ناپیلی ونیواوپه جګړه کې یې پرخه وانه خیسته. راجا مادوسینګ لاهم په حاشیه کې و،لکه چې یاده موکړه مرهټه پرراجپوتوباندې شکمن وو، ځکه چې راجپوتانوپردغه ټکې باوردرلود چې مرهته د درانیانوپه وړاندې دبرې چانس نه لرې، له همدې امله یی رډ بډ ځواب اوملاتړنه ورسره اغلاناوه، ددغه

------------------------------------------

(*) “The tow Rajput chiefs. Madho sing of Jaipur, and Bijay of Jodhpur, who were fed up with the extortions of the Marathas, put up by Najib Khan a against them. As the had extended moral support to the Rohila Chief in this struggle . the letter persuaded them to write letters of invitation to Ahmad sha abdali when he had already overrun the Punjab and was about to march upon Delhi in December

1759… Accordingly, Madho sing sent a letter to Abdali through the agency of Najib, which was duly acknowledge by the invader through the same channel. Ahmad Sha Abdali welcomed the cooptation extended to him by the Rajput Chief and advised him not to allow the Maratha to escape if they entered his territories.” ( https //books. Google.ca)

کارپایله داشوه چې مرهټه ووتصمیم ونیو چې باید دراجپوتانوسره خبره ترابدالي دمخه پریوه خوا کړي ځکه خو: « هلکرد ۱۷۶۱ کال په نوامبرکې د(منګرول ) په جګړه دمادوسینګ پوځ ته ماته ورکړه ...» ( پورتنی ماخذ)

په دغه کارسره د راجامادوسینګ او مرهټه وو، ترمنځ د باوراواعتماد پوله ګرد سره ورانه اوله منځه لاړه. په ۱۷۵۹ کې احمدشاه ابدالي مادوسینګ ته بلنه ورکړه څود مرهټه وو په وړاندې له وجی سینګ سره مل شي، مادوسینګ همدغه موضوع بیا له (وجی) سینګ سره شریکه کړه، له چاسره چې لادمخه یې ابدالي ته خپل استازي وراستولی و او خپله ژمنه یی ورسره کړې وه،په دغه اړه هندي لیکوال بیپین آر. شاه د راجیستان درایل آرشیف دلوی احمدشاه د یوه لیک پربنسټ لیکي:

“ Ahmad sha Durani (abadli) asked Mado Sing of Jaipur to join hands with Vijay Singh and stop the passage of the Marth towads Daccan and keep him informed of everything. He was assured that , Najib- u-dawala has impressed me of your Sincerity, fidelity and devotion and God willing, you will attain preeminence and distinction greater then the day of preceding of Hindustan” (Royal Archive).

را جا مادوسینګ کهچوا په دغه اړه د حالاتو تحلیل ته لږ نورهم سترکې په لاره شو، څو چې ډیر زر دا ورته څرګنده شوه چې احمدشاه ابدالي بریمن دی ځکه کوم ائتلاف چې له لوی احمدشاه سره اوس شوي و، کوم څواکونه په تیره روهیله اوسیکان چې په ظاهراوباطن کې دده اصلي مرستندوی ول، هغوټولوپه خپله دا ښوده چې مرهټه د ماتی په حال کې دي، دعه حالت د دې لامل شوچې مادوسینګ هم خپله کړې ژمنه لوی احمدشاه ابدالي ته ورولیږي:

“In fact, Madho Singh of Jaipur gave a written undertaking to Abdali that he would not help the Marathas. The Sikhs were also threatened by Abdali to prevent them sending supplies and military help to the Mughals.” ( The Peshwas: Peak & Debacle (historyfiles.co.uk))

په همدغه وخت کې د مرهټه وو یوه مهم متحد راجا کیشاو راو،مرهټه بالاجي پیشوا ته یولیک ولیکه اوپه هغه کې یې له هرې خوا اوپه هرحساب مرهټه مات بللی ول اودایې په ګوته کړې وه چې له غره سره باید سرونه وهي،دجګړې پرځای باید دیوې بلې لارې په لټه کې شي دغه لیک چې ګنډا سینګ هم په خپل اثرکې خوندي کړې زه یې دلته انګریزي متن را اخلم په لاندې ډول :

Letter of Raja Keshav Rao to Peshwa Balaji Rao about Afghans and Rohillas

This disaster befell the Marathas on the 4th of March, 1760, and had a very depressing effect upon them. Writing from Jhansi on the 25th of Rajjab, 1173 A.H., March 13-14, 1760, to the Peshwa Balaji Rao, Raja Keshav Rao sounded a note of despair. "In short, the Abdali [Ahmad Shah Durrani] and Ruhilas have all joined together," wrote Keshav Rao. "They have a large army and enormous quantities of artillery ammunition. It is not possible to fight with

them properly. We cannot lay our hands on them. Using dilatory tactics, we are eagerly looking in the direction of the Deccan for reinforcements. If any such help is coming, all will unite and defeat the enemy. Najib Khan Ruhila and all other tribes of the Ruhilas from the districts of Muradabad and Bareilly have become one and joined the Abdali. It is said that more army is coming to the Durrani from Kabul. If any one from your family is coming up, kindly send some European guns and ammunition along with him. The Jat, Madho Singh and Shuja-ud-Daulah are all afraid of the enemy. [A warrior like] Dattaji Shinde was reduced to such a plight [as to be killed by the Afghans]. Hence the Abdali and the Ruhilas are very proud. Secondly, our army also cannot hold its own against them. Malhar Rao is trying to harass them by his tricks. But the Abdalis and the Ruhilas are not like [Indian] Mughals. They are ferocious warriors, strong in attacking as well as in fighting. The empire of the Mughals in Delhi has been rendered powerless [by them]; practically, the Mughal rule has come to an end." "The light foray plan of campaign even under Malhar Holkar, the ablest cavalry leader among the Marathas, had entirely failed against Abdali," says Sir Jadunath Sarkar. "Returning to Bharatpur, Holkar called for Hafiz [Rahmat Khan]'s envoy and resumed the discussion of the peace terms proposed by that chief."[18]

)https://defence.pk/pdf/threads/letter-of-raja-keshav-rao-to-peshwa-balaji-rao-about-afghans-and-rohillas.342976/(

دغه ټولې علامې وې چې هغوداڅرګندوله،چې مرهټه دبریالیتوب چانس نه لري،ځکه چې دهغوله مخې عملي دلایل هم په مورالی اوهم په جنګی لحاظ دمرهټه وو په ګټه نه وو. دلوی احمدشاه ابدالي درایت اوپوه په دې کې وه چې ده هندي ځواکونه مخکې له مخکې خپلې اتحادي کړی ته را وبلل، لیکوال جي ان سرکارپه دغه لړکې دراجپوتاني نامتوسردار مادوسینګ کهچوا ( ۱۷۲۸ ــ ۱۷۶۸ ) ته د احمدشاه دهغه لیک متن هم خپورکړي چې دهغه په ترڅ کې یې دپاني پټ دجګړې په اړه معلومات ورسره شریک کړي دي له دغه لیک څخه په ډاګه څرګندیږي چې راجپوتان په تمامه معناله احمدشاه ابدالي سره دمرهټه ووپه وړاندې په یوه سنګرکې دریدلي ول،چې دغه لیک یې ترټولوښه وڅرګند شاهد دی:

" The flame of fighting blazed up and raged on all sides. The enemy too distinguished themselves and fought so well, that it was beyond the capacity of other races. Gradually the fighting passed from the exchange of cannon and rocketfire to the
discharge of muskets, from which it proceeded to the stage of combat with swords, daggers and knives. They grasped each other by the neck.
Those dauntless bloodshedders ( the Marathas) did not fall short in fighting and doing glorious deeds. Suddenly the breeze of victory began to blow and as willed by the Divine Lord the wretched Deccanis suffered utter defeat. Vishwasrao and the Bhau who had been fighting in front of my Wazir were slain and many other Sardars also on their
side fell. Ibrahim Khan Gardi and his brothers were captured wounded. Bapu Pandit (Hingne) was taken prisoner. Forty to fifty thousand troopers and infantry men of the enemy became as grass before our pitiless swords. It is not known whether Malhar and Janko have been slain or what else has happened to them. All the enemy's artillery, elephants and property have been seized by my men"

)This letter was published by J.N. Sarkar in the Modern Review, May, 1946 (

**پایــــــله :**

**دا وه د لوی احمدشاه بابا د یوه بل متحد په اړه لنډه یادونه، چې موږ او هر آسیایی اوسیدونکي پر دغه ټکي قانع کوي چې که د ده ارمانونه په ربښتیني توګه عملي شوي وای، آسیا به کله هم د یرغلګرو لویدیزوالو ښکیلاکي هدف نه وه شوې او استعمار به هم کله هم دلته په سوو کالونه خلک او ملتونه د خپلواستعماري غرضو په خاطر له خپلو مادي او معنوي حقوقو څخه محروم کړي وای.**

**په هر ډول، لوی احمدشاه بابا د افغانستان، هند او آسیا د تاریخ د زرینو څېرکو په ترڅ هغه سرلیک دی چې د ژوند او واکمنۍ په اړه یې ډیر څه لاهم نا ویل شوي او نا څېړل شوي پاتې دي، په دغه اړه ډیر داسې حقایق تر اوسه هم د رابرسیره کیدو انتظار باسي چې په یو شمیر آرشیفونو کې نا ویل شوي پراته دي، چې د هغو د راټولو په خاطر د افغانستان د حکومت او دولت هڅو او ارادو ته چې د یوه ربښتیني افغاني سیاسي واک او ځواک استازیتوب وکړای شي اړتیا ده، دا یو مقدس هڅون او کار دی چې غلامانه ذهنیتونه هم په افغانستان او هم له افغانستانه د باندې د هغو تحمل او په دغه اړه کار کولو ته د ارادې نیت نه لري. د هغې ورځې په هیله چې موږ د لوی احمدشاه ابدالي په اړه د همدغو ناویلو اسنادو دوسیې راوسپړو او د هغو په رڼا کې د خپل دغه لوی آسیایی اتل څېره د آسیا د ژغورندوي واکمن په توګه په خپلې ټولې صفایی سره ووینو، ویی لیکواو ویی ستایو...**

پای

پرفیسور رشید

د شل یوویشت کال د مي ۳۱